# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Vanguard Woman | زن پیشتاز |
|---|---|


ژباړه: فرهاد وياړ
۱۱ دسمبر ۲۰۱۵

## د بنځو سور پوځ
## (۷)



توره تياره شپه وه او شاوخوا چوپه چوپتيا وه. هون چانګ چنګ خپل ساعت ته وکتلې. د بريد لپاره ټاکل شوی وخت نژدی و، نو ژر يې چترۍ نيونکي ته وويل د شا دروازه خلاصه کړه.



چترۍ نیونکي ورو د شا دروازه خلاصه کړه او د ښځو د سره پوځ کلیوالی انجونې یې د کوټې دننه ته راوغوښتلې.



جونګ هوا او هون لیان، ورو د نان باتیان د خوب کوټې ته ورننوتلې.



نان باتیان یې په داسې حال کې چې بیده وو، ونیو.هون چانګ چنګ هغه ته په سپکه وکتل او بیا یې سرتیرو ته امر وکړ چې درې ځایونه وسوځي، څو موکه پیدا شي او د پوځ نورو میرمنو ته چې د برید په تمه وې، خبر ورسیږي .



په دې شیبه کې د میرمنو سور پوځ د قوماندان سره په پټه راوننوتل. هغه کس چې د سرو زرو غاښ یې درلود، غوښتل چې مقاومت وکړي خو د قوماندان  د ډزې هدف وګرځید او په ځمکه ولید.



کله چې سور پوځ د یلین کلي ته راورسید، په ټول کلي کې اور لمبې وهلې. د ارتجاعي پوځ سرتیري یا مړه شول او یا یې هم وسله په ځمکه کیښوده، د سره پوځ سرتیرو دا جګړه بریا ته ورسوله او د یلین کلی ازاد شو.



د همغې ورځ په سبا جونګ هوا زورواکی نان باتیان راکاږلی راکاږلی د واټ تر څنګ راوړ او د بزګرانو مخې ته یې خپل غم داسې فریاد کړ:«زه د دې وینځه وم، د پلار پښه مې په خطایی سره  د دې له سپې سره ولګیده، یوازې د همدې لپاره او په همدې پلمه یې زما پلار ووژو...»



ټولو په يوه خوله وويل:« دې خونړي دښمن، نان باتيان، کلونه کلونه پر بزګرانو ظلم او ستم کړی، او اوس د يلين په کلي کې د غچ اور لمبې وهي. دا زهرجن مار ووژنئ!»



د خلکو د پريکړې لپاره يې نان باتيان په لنډمهاله ډول په کوټه کې وتړو، کله چې يې وليدل چې د هغه ساتنه يوازې يوه انجلۍ کوي، د تيښتې فکر يې سر راته راغئ، په مکر يې وويل:«غواړم تشناب ته لاړ شم.»



او بلې کوټې ته وننوت، ژر يې د ځمکې تيږي ليرې کړی او د تکهاوی له لارې وتښتيد.